دانټرنیټ دفارسی منابعو څخه

ژباړونکی : (عزیزاحمد خوارمل )

# واشینګټن پست ولیکل :

# امریکا دایران په تحریک کولو پسی دی !

امریکایی ورځپانی واشینګټن پست په یو ګزارش کې دامریکا او د اسرائیلو درسنیو د تبلیغاتی جګړی او پر ایران باندی د نظامی یرغل د خبر په هکله یې ولیکل: امریکا د ایران په تحریک کولوپس دی ترڅو ایران یو نظامی پیل رامنځته کړی او بیا امریکایانو ته پر ایران باندی ویرغل کولو ته یوحتمی او اړین موضوع وګرځی .

د دی ګزارش پربنسټ د اسرائیلو دتیر میاشت هوایي نظامی مانور دمدیترانی دسمندر د پاسه ، دامریکا او د اسرائیلی رسنیود رسنیو د تبلغاتی جګړی په پراختیا ورکولوسره د ایران پرضد زیار باسی ترڅو نړیوال عمومی افکار پر ایران باندی دنظامی یرغل د پاره اماده کړی چې دوي په دی هکله تر اوسه پوری ناکامه پاته سوي دي .

د همدی مطلب پربنسټ د واشنګټن پست ورځپانی د ( ۸ . ۷ . ۲۰۰۸ )نیتی په ګڼه کښي تر دی سرلیک لاندی « دجورج ډبلیو بوش د مخه بنه اودخدای په امانی کړن لیک پر ایران باندی د یرغل کولوسره شامل دی او د دی موضوع په هکله یې د اهسی ولیکل : امریکا او اسرائیل عملاً درسنیو په تیلیغاتی جګړه کښې ورننوتی دی تر څو د ایران دولت راوپاره وي او په دی مورد کې د ایران دولت د ځانه عکس العمل وښیي او وروسته د دی عکس العمل په وړاندی یونظامی پیل او د جګړی لمړینی انځور اعلام کړی په همدی ډول سره لیدل کیږی چې د امریکا هیواد د هغو پټو او سری لمسونونوپه رامنځته کولو باندی تکیه وکړی تر څو د ایران پر ضد دغه جګړه هرمروررامنځته کړی»
.

د دغه امریکایي ورځپانی د لیکنی پربنسټ : ددی نظامی پیل په رامنځته کولوکې چې په واشینګټن کې « پرنړدی ختځ باندی دمطالعی د موسسی د خواڅخه ډېر کلک ملاتړ هم کیږی ، نوکیدی سی چې دغه نظامی یرغل یوه محدوده امریکا یی یا اسرائیلی یرغل به وي ».

واشینگټن پست د دی مطلب په ادامه پسی زیاتوی :د امریکا دولت تر اوسه پوری د عربی هیوادونو ملاتړیې په پوره او قطعی ډول سره پر ایران باندی د دی نظامی یرغل په هکله نه دی ترلاسه کړی او په عین حال کې یوشمیر عربی هیوادونه په بربنډه توګه د ایران د نفوذه څخه بهیره هم لری اود نظامی یرغل درامنځته کیدو څخه په سیمه کښې چې یوه ډېره اوږده جګړه به هم رامنځته سی ، ډېر په تشویش کې دی او د دی وضعی سره د احتیاطه څخه کار اخلی .

تیره اونی امریکایي "نیویورکر" مجلی په یو ګزارش کې ولیکل چې د جورج بوش دوړاندیز پربنسټ د څلورسوه ((۴۰۰)) میلیونه ډالرو پریکړه وسوه چې دامریکی د بودجی څخه دی دغه ډالر په ایران کې د پټوعملیاتو د ډېریدو د پاره وکارول سی ترڅو په ایران کې اوسنی امنیتی وضعه ناقراره او بی ثباته کړی ، دغه خبر يې اعلان کړ اووی ليکل چې دغه ډول عملیاتونه یو نوی امر اوکړنه ندی دوي پخوا هم داهسی عملیاتونه يې ترسره کړې دی

واشنګټنپست په خپل دغه ګزارش کې دنیویورکر دمجلی دخبرپه اړه يې ولیکل : دپټو اوسری عملیاتو پراخه کیدل او ترسره کول دیوی ممکنی سناریوعملی کیدل دی .اوددغه پټو عملیاتونو اوسری غلچکی یرغلونو په ترځ کې کیدی سی چې د امریکا وموخوته تحقق ورکړل سی، مګر په ډېراټکل سره کیدی سی چې په ایران کې د دغو نا قراریو په نتیجه کښې دایران لخوا دجګړی د اعلان تفسیردی رامنځته سی .

دغه امریکی ورځپاڼی پردی ټکی ټینګار کوی : داهسی ښکاری چې دپټوعملیاتونو وروستنی موخی په ایران کې د ګډوډی او د کړکیچ رامنځته کول دی اوپه دی لړ کې به د اجازی ورکولو په نیت به بهرنی مداخله په ایرا ن کې وی .

واشنګټنپست د دی لیکنی په پای کې لیکی او په دی ډول سره مدعی دی، چې د جورج بوش دولت هیله مند دی ترمخه تر دی چې دسپینې ماڼی څخه ووځی،او ولاړسی او دسپینی ماڼی سره خدای په امانی وکړی د جګړی اوربه بله وی ،مګر د بوش دغه پیل به یو ښکاره یرغل او یا یوپټ او سری پیل به وي،لا تراوسه دغه موضوع نامعلومه ، ګونګ ، پیچلی او نا څرګنده موضوع دی .

دغه امریکایی ورځپاڼی همدارنګه د غربی رسنیو درسنیو دتبلیغاتي جګړی تر څنګ په پای کې ولیکل : په بل عبارت سره دبوش دولت تر څویوه بله چاودنه رامنځته نه کړی دسپینی ماڼی څخه نه ځی اونه ووځی.

همدارنګه د ایران د ایسنا خبری آژانس بیا په خپل انټرنیټی سایت کې د پورتنی موضوع په هکله لاندنی متن يې ولیکل : **پنتاګون و اسرائیلوته پر ایران باندی د نظامی یرغل اجازه نه ورکوی !**

د همدی موضوع په هکله د نتاګون یوپخوانی جګپوړی چارواکی په ټینګار سره وویل چې د امریکا هیواد وتل آویو ته اجازه به ور نه کړی چې پر ایران باندی دی نظامی یرغل تر سره کړی انتونی کردسمن د پنتاګون پخوانی جګپوړی چارواکی چې دا اوس مهال د ای بی سی د تلویزیونی شبکی د دفاعی چارو یو نامتوڅیړونکی دی او دی څه موده مخکی د ملی امنیت د مطالعاتوپه موسسه کښې د اسرائیلی څیړونکوسره په یوه کتنه کې وویل ((مایکل مولن د امریکی د مرکزی ګډونظامی قوا و رئیس په خپل سفر کښې په تل آویو کې و ګابي اشکنازي داسرائیلو دمرکزی ګډونظامی قواو رئیس ته دامریکا د هیواد دریځ یې د ایران په هکله ده ته اطلاع ورکړ ،او همدارنګه د اورشلیم پوست د ورځپاڼی د لیکلی سوی مطلب په اړه ،کردسمن وویل چې د امریکا هیواد په دا اوسنی پړاوکې زیار باسی اوپه دی لټه کې دی ترڅو د ډیپلوماتیکو لارو چارو په وسیله سره د ایران دولت و دی ته و داره کړی چې په سوله ایز او ډیپلوماتیک ډول سره د اټومی او هستوی پروګرام نه لاس واخلی ،او اسرائیلوته یې په بربنده او ښکاره توګه وویل چې بیله دسپینی مانې د موافقی نه پرایران باندی یرغل ونه شی ،ده په دی هکله زیاته کړه چې د امریکی اوسنی سیاست د بل نوی جمهور رئیس د قسم خوړلوتر وخته پوری به بدلو ن ونه مومی .

همدارنګه یوی بلی ایرانی ورځپاڼی (آفتاب یزد) په عراق کې دوژل سویو امریکایي سربازانو وروستنی شیمر یې په لاندی ډول سره خپاره کړی دی : د امریکا د وژل سویو سربازانو شمیر وخلور ره یوسلو وارلسو »۴۱۱۴) تنوته ورسیدی او داپه داهسی حال کې دی چې دری زره دری سوه دروپنځوس (۳۳۵۳) تنه په غلچکی اومخامخ جګړو کې وژل سویدي ،اوپه عراق کې دائتلافی قواودنورو غړیوهیوادونو دوژل سویو سربازانوشمیر په دی ډول دی : برتانیا یوسلوشپږاویا (۱۷۶) تنه ایټالیادرودیرش (۳۳) تنه اوکراین اته لس (۱۸) تنه پولند یوویشت (۲۱) تنه بلغاریا دیرلس (۱۳) تنه اسپانویان یوولس (۱۱) تنه اوډنمارک (۷) اووتنوته رسیږی ./

13072008

www.ayenda.org